**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د اوسني پانګوال اقتصاد پراختیایي پروژې یوازې حکامو او چارواکو ته ګټه رسوي

## یوازې د خلافت تر سیوري لاندې پروژې به د خلکو ژوند ته سوکالي راوړي

د ۲۰۲۳م کال، د اګست په لومړۍ نېټه، د پاکستان پطرولیم وزرات او باراک د سرو زرو شرکت په ګډه د پاکستان د ۲۰۲۳م کال کانونو د ناستې کوربه‌توب وکړ. د انرژۍ د پطرولیم برخې لپاره د دولت وزیر، ډاکټر مصدق مالک دغې ناستې ته په وینا کې بهرنیو پانګوالو ته په پاکستان کې په بېلا بېلو برخو، په ځانګړې توګه د کانونو برخه کې د پانګونې بلنه ورکړه. هغه وویل چې له دې ناستې څخه موخه په هېواد کې د بهرنۍ مستقیمې پانګونې ډېروالی او د پرمختګ پر لور حرکت دی.

د تېرې پېړۍ په شپېتمو کلونو کې، پاکستان د کرهنې او صنعت په ځینو برخو کې یو څه پرمختګ وکړ. دا د پرمختګ لسیزه وبلل شوه. خو ډېر ژر په ډاګه شوه چې د دغه پرمختګ د ګټو ډېره برخه د واک خاوندانو ۲۲ کورنیو ته رسېدلې وه. بیا د تېرې پېړۍ په اتیایمو او نویمو کلونو کې د ازاد بازار اقتصاد، سوداګریزه ازادي، د عامه بنسټونو خصوصي کول او د لویو لارو جوړول د پرمختګ اساسات وګڼل شول. د دغو پالیسیو او پروژو ګټه هم یوازې لږو خلکو او بهرنیو پانګوالو ته ورسېده. هېواد او خلک همداسې بېوزله پاتې شول.

دغه راز، د اوسنۍ پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې له لرې واټن څخه د اړیکو پراخېدل او بیا په دوهمه لسیزه کې د چین او پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) د هېودا د پرمختګ ضامن وبلل شول. خو بیا هم ډېره ګټه چینایي او څو ملیتي کمپنیو ته ورسېده. خلک او هېواد هماغسې بېوزله پاتې شول او نور هم په پور کې ډوب شول.

اوس یې خلک په دې خبره بیا خوشاله کړي چې پاکستان د ټرېلیونونو ډالرو په ارزښت کانونه لري؛ که په دې برخه کې ډېر کار وشي، د پاکستان او دغه هېواد د خلکو برخلیک به بدل شي. پوښتنه دا ده چې په دې کې څه شی نوي دي؟ پاکستان نږدې ۲۰ کاله مخکې له یوه چینایي شرکت سره تړون وکړ چې په بلوچستان کې له سایندک کانونو څخه مس او سره زر راوباسي؛ دا تړون تر ۲۰۳۷م کال پورې تمدید شو. د دغې پروژې ګټه نه یوازې دا چې د ټول پاکستان خلکو ته ونه رسېده؛ بلکې د هغې سیمې خلک لا هم په سخته بېوزلۍ او ناوړه حالت کې دي چې دغه کانونه ترې را ایستل کېږي.

که د تېرو شپېتو کلونو تجربه په پام کې ونیول شي، د دې خبرې کول به ناسم نه وي چې د دغو کانونو ګټه به بیا یوې ډلې واکمنو بهرنیو پانګوالو ته ورسېږي. دا خبره د یوه لوی څو ملیتي شرکت له لوري د دغې ناستې له کوربه‌توب او ګډونوالو ښکاري. نو تر هر څه وړاندې باید دا پوښتنه ځواب شي چې د پرمختګ د ټولو عناصرو پر شتون سربېره؛ پاکستان او پاکستانیان ولې سوکالۍ ته نه رسېږي او نهیلي دي؟

د دغه وضعیت اصلي دلیل دا دی چې په پاکستان کې پانګوال اقتصادي نظام پلی کېږي. دلته که ډیموکراسي وه، که پوځي دیکتاتوري او که بل څه؛ اقتصادي نظام یې تل همدا و. پانګوال اقتصادي نظام نیږدې ټولې شته سرچینې خصوصي سکټور ته سپاري. د دغو سرچینو اصلي ګټه پر خصوصي سکټور واکمن اړخونه ترلاسه کوي. دغه ګډ سهامي شرکتونه د پانګوال مالي تامین له موډل څخه میلیاردونه ډالر ترلاسه کوي. بانکونه، سهامي بازارونه، د پانګې بازارونه او د موسسو پانګوال پر دغو سرچینو کنټرول پیدا کوي. په داسې حال کې چې د یوه هېواد د شتمنۍ ګټه باید ټولو خلکو ته ورسېږي. په پانګوال اقتصادي نظام کې د یوه هېواد د شتمنۍ ګټه یوازې څو کسانو ته رسېږي.

په «پرمختللو» هېوادونو کې هم پانګوال نظام شتمني د یوې ډلې په لاسونو کې ږدي. د ۲۰۲۳م کال په لومړۍ ربع کې، په امریکا کې ٦٩ سلنه شتمني د ۱۰ سلنه مخکښو عاید لرونکو په واک کې وه. د دې په پرتله، د ټیټې کچې ۵۰ سلنه عاید لرونکو د ټولې شتمنۍ پر یوازې ۲،۴ سلنه برخې واک درلود. د پاکستان له پرېمانه سرچینو څخه به یوازې د نبوت پر منهج راشده خلافت تر سیوري لاندې اسلامي اقتصادي نظام کې ټولو خلکو ته ګټه ورسېږي. د اسلام اقتصادي نظام کانونه عامه شتمني ګڼي. له همدې امله، دولت اړ دی چې د کانونو پر استخراج، تصفیې او پلور پخپله څارنه وکړي. خلافت دولت باید دغه کانونه د خلکو پر اړتیاوو ولګوي، ځکه چې خلافت یو ساتونکی دولت دی او د خلکو د چارو رعایت او تنظیم کوي. په دې توګه د اسلام اقتصادي نظام د همدغه یوه حکم په پلي کولو سره ولس او دولت هوسا کولی شي.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[وَلَوۡ اَنَّ اَهۡلَ الۡقُرٰٓى اٰمَنُوۡا وَاتَّقَوۡا لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِمۡ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالۡاَرۡضِ]**

**ژباړه:** *«که د سیمو خلکو ایمان راوړی وای او د پرهېزګارۍ لار یې غوره کړې وای، نو موږ به هغوی ته د اسمان او ځمکې د برکتونو دروازې پرانېستې وای.»* [اعراف: ۹٦]

د پانګوال نظام پر ناکامو نسخو د  نور ډېر وخت، هلو ځلو او سرچینو ضایع کولو پر ځای؛ د واک او ځواک څښتنان باید حزب التحریر ته نصرت ورکړي چې د نبوت پر منهج راشده خلافت بیا تاسیس کړي.

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ. ق کال، د محرم ۲۰مه**

**۲۰۲۳م کال، دوشنبه، د اګست ۷مه**

**د صدور ګڼه: ۰۳/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: فریدون محتاط**